**ليکونکی: ريچا رد ريچمن(Richard Richmann).**

**منبع اودخپريدو نيټه : کونترپانچ «2019-12-03».**

**ژبا ړونکی: پوهند وی دوکتور سيد حسا م «مل» .**

---

## آيا متحده ايالات له خپلو نه ختميدونکو جنګونو څخه وتلي شي؟

## Can the US get out of its endless wars?



**دانځور سرچينی: دمتحده ايالاتو پوځ CC BY 20**

*دونا لد ترا مپ په کا ل (2016) دخپل ا نتخا با تی مبارزی په لړ کی خپل مخالفت دعراق له جګړی څخه وښود ، هغسی مخا لفت کوم چي بالاخره په ټوله نړي کی د متحده ايالاتو دپراخه ژمنی اويا دونالد ترامپ دجګړی پر ضد پاڅون اودهغه پواسطه سره د نه ختميدونکی جنګونو غند نه داسی آوازی را پورته کړ کوم چي ډ يری رای ورکونکو دهغه ددی ژمنی په رڼا کي دا فغا نستا ن اودعرا ق دجګړی د ملاتړ څخه سترګی پټی کړ يا په بل عبا رت سره : د متحده ايالاتو پراخه ژمنی دهغه نه ختميد ونکي «جنګونو» غند نه دومره په زړه پوري شوه چي زيات رای ورکونکو دافغانستان اوعراق جګړی لپاره دهغه اسنا د و لومړنی ملاتړ له پامه ِورغورځولي – په حقيقت کی دونالد ترامپ دنورو د يموګرافيکو اواقتصادی عواملو*

په پرتله له هغو سیمو څخه زیات رای تر لاسه کړ کوم چې له هغه سیمی څخه په نوموړو جګړو کی زیات سرتیری تلفات ورکړی وه اما رای ورکونکو **هیلاری کلنتون** (دبهرنی چاری دوزیری په توګه ) ته له دی نه چې هغه د یو جګړه غوښتونکی کس په نوم سره مشهوره شوی وه ونتوانید ل چې ډ یر رای خپله کړي .

اما سره له هغه **ترا مپ** لږ تر لږه تر دی د مه بیاهم یو نظا میګر یا وسله وال پا تی شوی دي ، هغه لا ترا وسه له افغا نستا ن اوله عرا ق څخه دامریکی پا تی شمیر سرتیری نه دی را ایستلي هغه په سوریه کی امریکا یی سرتیری دترکیی له پولو څخه د سوریی په د ننه کی دا مریکی د ژور ښکیلتا په ښودلو سره ځا ی پر ځای کړ ا و هغه دامریکی یوه نظا می اډه د نړی په کوم ځای کی نه دی تړلی اونه هم له بهره څخه میشتي ا مریکا یی سرتیری بیرته کور ته نه دی را ستون کړي .

دیمو کراتا نو یواځی پرته د یو څو د ګوتو په شما ر سره څو اصولی ضد مداخله ګرو څیرو لکه برنی سندرز (Bernie Sanders) په ښکا ره بنی سره ژمن نه دي چی د ا مریکی د (800) زیا ت نظا می اډی چې هغه هیواد په ټوله نړی کي لری دهغه اډ وشمیره راکمه کړي یعنی هغه نظا می اډی چې دهغی د سا تنی لپا ره هرکا ل له (100) ملیا رد ډالرو څخه زیا ت پیسی په مصرف رسوی – دنیر کا ل لپا ره د یموکراتا نو کله چې د وی دا مریکی پر با ند نی سیا ست باندی خبری کوی نو هغوی په لویه کچه خپل با ند نی سیا ست پر روسیی با ندی متمرکز کوی ، دموکراتانو د **ترامپ** اړیکی د روسیی سره په پلمه پر **ترامپ** با ندی فشا ر غورځولی او هغه ا یستیضاح ته را غواړی چې په دی ډول که وشي کړی چې د هغه د بیا ا نتخا ب کید و احتمالات کمزوره کړی – د موکراتا نو روسیه د متحده ایالاتو لپا ره د ستراتیژیک ګواښ په توګه د پخوانی شوروی اتحا د یا ا وسنی **چین** سره پرتله کړی اود تیا کنو په اړه دغه مشکوک تګ لاره د نظا می لګښتونو د پیا وړی کولو اود نړی په هیوادونو کي د متحده ایالاتو د مداخلی د توجیه کولو لپا ره د روسیی ګواښ ته ګوته نیسی .

دا ښکا ره بریښي چې تر هغه وخته پوری چې د یموکرات ګوند په ا سا سي ډول بد لون ونه شي یا تغیر ونکړی موږ به د انتخا با تي پروسي له لارې د نه ختمیدونکو جنګونو څخه خپله لاره وبه نه مومو. لکه څنګه چې دواړه سیاسي ګوندونو نیمه پیړۍ دمخه د ویتنام جنګ ملاتړ کړی ، نو نن ورځ د دې عقیدې ترشا اصلي توافق شتون لري چې متحده ایالات یو اړین ملت دی ، او له همدې امله د ځا ن غوښتنې او اید یا لیزم له ترکیب څخه با ید هغه څه مصرف کړي چې د بشپړ سا تلو لپا ره اړین دي. یعنی **بشپړ تسلط** (پراخ حا کمیت) او د کما نډو قومانده. په هرصورت ، لکه څنګه چې د ویتنام جنګ په نها یت کې په متحده ایالاتو کې دغیرتاکنیز تحرک او په ویتنام کې د جګړې په ډګرونو کې د ما تې له لارې پا ی ته رسید لی ، همدا سې د متحده ایالاتو شلمې پیړی جنګونه زموږ د هڅو له لارې په متحده ایالاتو او د ا مریکې د نورو لخوا پای ته رسیدلی شي. څرګنده اقتصا دي او جیو پولیتیکي ضعف. د دې لپا ره چې یوه شو څه شی کولی شي زموږ اپوزیسیون خورا اغیزمن کړي موږ باید هغه ځواکونو با ندې پوهه شو چې په ټوله نړی کې د متحده ا یالاتو پراخه شتون او د متحده ایالاتود ا شخا صو تر منځ د ژور ویش ملاتړ کوي.

## ځوک د متحده ایالاتو نظامي ځواک څخه ګټه پورته کوي ؟

ا مریکا یی سرمایه داران لکه دپخوانیو لویو قدرتونو هیوادونو په څیر لکه د نولسمی پیړی انګلستا ن ، فرانسه او هلند کوم چي پخپلو حکومتونو تکیه کول ډېر ډېر لګوی ترڅو چي بهرني سیمی اودهغه سیمی خلک د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپا ره تر ولکي ولري ، اما نن دپا نګوالانو په روش یا چلند کی د ګټی د ترلاسه کولو مخه بد لون پیداکړي دي . او هغه داچي په اوسنی وخت کي رسمی استعما ر وجود نه لري بلکه د هغه پر ځای یی ا مریکا یی پا نګوالان د خپل دولت ترشا په دي هڅه کي دی چي دهغوی دولت د مذاکری دلاری پوا سطه سره دهغو په اصطلاح دآزاد تجارت موافقی ترلاسه کړي ترڅو چي امریکایی شرکتونه په آ زاده توګه په با ند نی مارکیټونو کی آزاد تجارت وکړي نودهمدی اصل په نظرکي نیولو سره د متحده ایالات دولت د هغو دولتونو په مقابل کي چي پخپلو بازارونو کي دامریکایي شرکتونو دراکړي ورکړی په مقابل کی خنډ رامینځته کوی د نظامی او غیر نظامی وسایلو څخه کار اخلی تر څو چي هغه دولتونه ونشي کړلی چي دخپل منا بعو څخه کاروا خلي اویا دخپل خلکو اود کارګری طبقی لپاره تولنیز نها دونه را مینځته کړي . اوس دا بلکل ښکاره دي چي متحده ایالات ددی توان نه لری چی ولویدیځ اروپایی هیوادونه ترخپل استعما ری چغ لاندی راولی حتی د شوروی ا تحاد له نسکوریدوڅخه لا هم په دي قادرنه دي چی ولویدیځ بډا هیوادونه دزړی استعمارپه چلند استعما ر کړي. یا ترخپل مستقیم ولکي لاندي راولي .

د سوداګري په تړونونوکي دمتحده ایالاتو اهداف یا مخي دوخت په تیریدو سره بدلون موندلي دی . تر (1960) لسیزی پوري دامریکی دولت زیا ر ایستل چی خا رجي بازارونه دامریکا یي تولید کړل شوی کا لیو په مقا بل کي پرانیزی ،مګرلکه څنګه چي دامریکا صنعتی څنډه یا حاشیه ورکه شوه، نو متحده ایالات ددي بر ځای دهغو تولو شیانو لکه داقتصادی نهادونو اود شرکتونو دامتیازاتو او دکا پی کولود حقونو دخوندی کولو دترلاسه کولو په لټه کي شو او هم د امریکا یي درملو ، دسا فتویر د ګټو هڅه وکړ . په ا صل کي امریکا یی سوداګریز مذاکره کونکو له کا ل (1970) څخه د **والستریت** ، **لوی فارما** (Big Pharma) **سیلیکو ن ولي** (Silico Valley) **اودهالیوډ** (Holly Wood) د ګټی د خوندی کولو لپا ره صنعتی کا رګران قربا ن کړل.

## نظامی نخبګان څه شي غواړي چي تر لاسه کړي :

د متحده ایالاتو نړیوال ځواک جوړوني اودهغه سا تنی خورا ډیر درووند اوګران کار دي او هغه داچي د دی اصل د ترلاسه کولو لپا ره دایمی نظا می تا سیسا تو ته ا ړتیا لیدل کیږي او هره

اداره لکه پنتا ګون دملیونونو سرتیرو او د نورو کا رمندانو استخدام او په کا ر اچونه اودهغو لپاره د معا شونو تا د یه کول هرکا ل کم ترکمه یوه تریلیو ن دلار ته اړتیا لیدل کیږی چی دا سیا سی قدرت ودغه لوی آزادی او استقلالیت کوم چی دغه نها د لری پخپله حیرانونکي دي.

دامریکي متحده ایالات دنورو هیوادنو په پرتله اویا په مینځ کي بلکل یوځانګړی غیر معمول هیواد دي کوم چی دغه هیواد له پیل څخه راهیسی پر تسلیحاتی یا د سلاح جوړوني پرخصوصی شرکتونو با ندي اتکا کړي اوداځکه چي سلاح پیرودنه یا د سلاحګا نو راکړی ورکړی د نورو هیوادونو سره نسبت هر نورو شیا نو د معا ملی څخه زیا ت ګټی تر لاسه کوي کومچی دا پخپله دسلاحګانو دشرکتونو د مالکانو اودنظامی افسرانو تر مینځ علاقه او ملګرتیا پیا وړی کوي کوم چي که نه – نودګران حکومتی برناموسره مخالفت کوی چی حتمی باید د هغه پا نګه د ما لیا تو له لاری تمویل کړ شي .

هغوی دجګړو دځرنګوالي په اړه دجنرالانویا د لوړپوړوصا حب منصبا نو نظرونه اویا داچي هغوی کومی وسلی ته چي ا ړتیا ورته لري شکل اخلي ، په واقیعت کي د شغلی چلند له مخي په دنده ګمارل شوی نظامی افسران لږ اویا کم پیژند ل کیږي ،هغوی یعنی په دند و ګما رل شوي ماموران دهغه واحدونوپه چوپړ کی ولویږي چی دوسلو دځانګړي سیستمونو اداره پر غاړه لري ، دوی دقیمتی اودتخنیکي له پلوه ددغه پیچلی وسلو دپرمختګ په فرماندهی یا هدایت باندی ځان اړین بولی کوم چي ددی تسلیحاتو سیستم دجوړونی لپاره دمالی کمکونو دپرترلاسه کولو باندی بریالی کیږي اوداسی شرایط رابرابروی چی جنرالانو ته اوږدی دوری مشا غل یا دندی تر لاسه کړ شي نو ددغه خوزښت یا حرکت دپراخیدو په صورت کی پوره تضمین ترلاسه کیږي.

د نظا می بودجی کمښت یا په ښکا ره بڼی سره د تسلیحاتی سیستم لغوه ددی موجب کیږي چي دغه افسران خپل دندی دلاسه ورکړي ، په یا د مو با ید اووسی چی د وسلو د سیستم پراخوالی نظا می متقاعد افسرانو ته د تقاعد په مها ل کي هم پوره ګټه ور رسوي اوداځکه چي د فاعی یا تسلیحا تی شرکتونه متقاعد افسرا ن اونظا میا ن په کار ګماروی او هغو ته د لوړو معا شونو دورکولو وعده ورکوي کوم چی دغه افسران د قدرت انګیزه تر لاسه کوی ترڅو چي د قیمتی وسلو سیستمونو دارزښت سوا ل رامینځته نکړی یا دقراردادیانو اوددفاعی پیمانکارانو دقیمتونو دپریکړي په اړه ځان چپ وسا تي.

دا مسلکی ، حرفوی او تنظیمی اړتیا وی اود پرمختللی وسلو د سیستمونوپلورل ددفاعی شرکتونو د ګټودا نډول سره سمون لري ، کوم چي په دوامداره توګه لویه ګټه لاسته راوړي . په دی توګه دپرمختللی وسلو خرڅلاو د پنتا ګون د بودجي د زمری برخه تشکیلوي. حال داچي داډول وسلي

اساساً دجنګونو لپا ره منا سب نه دی چی متحده ایالات دا ډول وسلو با ندي په دی یوشتمه پیړی کي جنګونه تر سره کړي .

د متحده ایالاتو فوق العا ده ځواک د وخت په اوږدو کي د نړی په ډیرو برخو کي داتحا دونو سیستم په پلی کولو سره بشپړ اویا را ټینګ شوی دي . په هر صورت ، متحده ا یالا ت د نورو هیوادونو سره خپل اړیکي په پراخه تو ګه د بهرنیو چا رو د وزارت پرځای د پوځ لخوا اداره اویا ترسره کړي ا و دا پروسه **د ترامپ** په مشری خورا ګړندي شوی دي ، ځکه چي هغه اود هغه د بهرنیو چا رو وزیران د ملکی د ډیپلوما تا نو شمیره کم ا و اوهم کمزوره کړي دي. د امریکی د دفاع وزارت ددوهمی نړیوا لي جګړي دوخته څخه راهیسي په ټوله نړۍ کی خپل اړیکي دهغه هیوادونود سیا لونظامیا نوسره ټینګي کړي دي لکه هغسی چي دمرکزی استخبا راتو اداره یی لری ،سربیره پردي ، پوځ اوسی آی ای(CIA) دزیا توبهرنـی حکومتونوملکی چا رواکو سره خپلواکي اړیکي سا تلي ، پنتا ګون د نړۍ د هري سیمي لپا ره ( ځا نګړی ا مرونه یا دستورا لعملونه) را مینځته کړي ، چی مشری یی د لوړپوړو جنرالانو یا د ا د میرا نو (دریا سالارانو) لخوا کیږي ، څوک چي دهیوادونو ددواړو یعنی دملکي اودنظامي چا رواکو سره په مستقیم ډول خبری اتری کوي یعنی چي دامریکی د پالیسی دپلی کولو مسولیت پر غا ړه لري کوم چي په سیا سی چاروکي د نظامی همکاریو څخه یوڅه وړاندي دي – دغه ډول هدایتونه ا و یا آ وامردامریکی د جمهوری ریا ست پوري په ټولو اړینو ادارو کي یو دوامدار ا جرایوی ا ړخ لری چي په دي توګه د متحده ایالاتو د سترا تیژیکو پا لیسیو اود بهرنـی حکومتونو سره په اړیکوکي د متحده ایالاتو دملکي حکومت په پرتله ډیر اړین او ټینګ او تلپا تي پالیسی دي.

متحده ایالاتواو بهرنیوځواکونو ترمینځ اړیکې د وسلو د پلور له لارې لا نوره هم قوي کیږي ځکه چې پیرودونکي د روزنې او ا ستخبا راتو لپاره په متحده ایالاتو پورې تړلي کیږي. په بهر کې د وسلو پلور د تولید کونکو ګټې هم پیا وړي کوي ، دا د امریکا پا نګوالو لپا ره قوي هڅونه چمتو کوي ترڅو د نړۍ ترټولو ظا لما نه رژیمونو سره د دوی دحکومت اړیکې ملاتړ وکړي ، لکه څنګه چې موږ اوس د سعودي عربستا ن سره ګورو.سربیره پردې ، د متحده ایالاتو متناسب بهرنۍ مرستې بودیجه دریمه برخه ، چې د ټولې فدرالي بودیجې له (یو) سلنه څخه لږ یا کم دی د نورو هیوادونو لخوا د وسلو پیرود لپا ره سبسا یډي ته ځانګړي شوې.

## د نخبګا نو مخا لفتونه او دهغو خودسري:

*د پا نگوالانو سره د ( پنتا ګون) ګډ ګټي اود ټولو دولتونو سره د هغوی د په ورځنی مخ په زیا تیدونکی خپلواک اړیکی اویا پیوندونه دجنګي برنا می ستونزی غیرنظامی چارواکو اودهغه له جملي څخه جمهورو ریسا نو لپاره پرابلمونه را مینځته کوي ، د ویتنام ، افغا نستا ن اودعراق دجګړودکلونودوام څخه وروسته څرګند اویامعلوم شوچي دغه جنګونه یواځی دامریکی دجنرالانو اود فرما ند ها نود بریا لی کید و اود فتحي هغه خیا لی او هزیا نی لړلید اویا توهما ت وه چی دا جنګونه کلونه کلونه دوام وکړ اما د ویلو دی چی په افغانستان اوپه عراق کي دغه رواني جګړي یوڅه دمحدودیت سره مخا مخ دی اوداځکه چي دامریکي سرتیری په دغه هیوادنونو کي دیاغیانو پواسطّ سره ډیرشمیره خپل ژوند دلاسه ورکوی نو دهمدی دلیل پر بنیا د شا ته عقب نشینی کوی اودامریکی لوړ پوړي مقا ما ت د خپل سرتیرو د تلفا تو حقیقی شمیره دامریکی خلکو ته نه را څرګندوی یا چي د سرتیرو کم تلفات وړاندی کوی .*

*دامریکی د متحده ایالاتود نظا می نخبګا نو اودهغه هیواد غیر نظامی چارواکو یو له بل سره دتراشغال لاندی په هیوادونوکي د متها جم امریکایی سرتیرو په وړاندي دهغه هیوادونو دیاغیا نو یا د شورشیا نو د کلک مقا ومت پرسر د نظر اختلاف شته دي اولکه دانګلیس دتا ریخي نمونی د سیا ست په پیروي ، دامریکی افسران اوغیر نظا مي چا رواکي د وطنی یا د بومی نظا میا نو د کړنو اود میړانو څخه په دفاع کي را وځی او دهغو څخه کلک ملاتړ کوي او هغوی هڅوی چی دامریکي تر تسلط لاندی هیواد کی شورشیا ن ، وځپوی اود امریکي د منا فع د ترلاسه کولو لپا ره خنډ ونه له مینځه ویسی – لکه هسی چي مونږ په عراق کي ولید اوهغه داچي د امریکي محلی متحد ین له امریکا څخه د خپل پیا وړتیا د ترلاسه کولو لپا ره ډیر غوښتنی وړاندي کړ چی یو له دی غوښتنو څخه دعراق دسرتیرو دوضیعت دښه کولو موافقتنامه وه کوم چي دبوش داداری اودعراق ددولت تر مینځ لاس لیک شو او وروسته له هغه چي بارک «اوباما» دنومبر میا شت کا ل( 2008) کی دامریکی جمهورریس وټا کل شو،نوهغه لاس لیک کړ شوی موافقتنامه په واقیعت کي دامریکی دمتحده ایالاتو دلوړپوړومقاماتوبی له قید اوشرطه دعراق نا سیونیا لیستو کړیو ته د تسلیمی یوه سند وه اوهغه داچي د د سمبر په (31) کا ل (2011) کی عراق دامریکي لپا ره دهغه دسرتیرو له عراق څخه دراوتلو موده وټاکل اوهم هغه ټول نظامي اډی چي په عراق کي* ***د*** ***بوش*** *داداری پواسطه سره دملیاردونو ډالرو په لګښت سره جوړ شوی وه او ددی اډو څخه د جوړوني هد ف دا وه چي امریکي به د دي اډو څخه وشی کړلی چي د مینځنی ختیځ هیوادونه تر خپل بشپړ کنترول لاندی راولی اما د عراق دولت په نوموړی لاس لیک کړ شوی سند کی په تا کیدی بڼه یا ده کړي چی له دغه نظا می اډو څخه هیڅکله اوهم هیڅوک پرته د عراق*

دپا رلمان له مجوز اوهغه هم پرته دعراق او د منطقی د داخلی واقیعتونو په نظر کی نیولو څخه نشي ګته پورته کولي .

د نړی په نورو برخو کي کله چي سلطنتی دولتونه په ارامه توګه د دی وړتیا لرلی شی چی متحده ایالات د **چین** او د **روسی** په وړاند ی ولوبوی ،سره له هغه چي متحده ایالات ډ یر لږ په دی راضی کیږي چي د خپلو سرتیرو ژوند په خطر کي واچوي یا هیوادونه د ا وږدی مودی دا شغال لپا ره داړین شوی پیسی یا دبود جی مصرف کولو ته زړه ښه کړي . اویا لکه څنګه چی د **ترامپ** له خوا د کډوا لو یا د مهاجرو د ضد جذ بید ل کرکتر هغه څه دي چي په متحده ایالاتو کي د بهرني همکا رانو اویا دامریکي د متحد ینو دوروستنی جلا وطنی هڅی د خنډ سره مخامخ کړی کوم چي نو دا به نور هم لا پسی سخته شي تر هغه چی متحده ایالات وشی کړی چي خا رجی متحد ین پیداکړي یا د خپل خا رجي متحد ینو با ور ځا نته را جذ ب کړي ترڅو چي هغوی دامریکی د منا فعو لپاره وجنګیږي.

مونږ د **ترامپ** او دامریکي دنظامي لوړپوړو چارواکو ترمینځ د اختلافا تو اود ناند ریو دلیدو اود موجودیت په نظرکي نیولو سره کوم چي د شغلی د بیپلما تا نو دملاتړ له امله رامینځته شوی د نښتي او د مخا لفت څرګند خطوط په ښکاره ښی سره مشاهده کوو، حتی چي دغه اختلافات ممکن د **ترامپ** له زما مداری څخه وروسته هم دهغه په وړاندي په واشنګټن کی به دوام وکړي .

اوپه عین وخت کي د پا نګوالانواود (99) سلنه موجوده شخړی ترمینځ د لوی تجا ری اودما لی توافقنا می ته د ضر رسولو په د لیل دامریکی دحکومت داقتصادی اونظامی پالیسی دهمغږي کچه به لا پسی کمزوره کړي.

د متحده ایالاتو د خپل خوښی تا کینیزي تړونونو اودهغه پریکړي د نړۍ په نورو برخو کی دهیوادونودرانسکورید و یا دهغوی ګوښه کول دامریکي دسرمایه دارانو د توان اودقدرت دیوی طبقی یا دیوی ټولګي په ښه منعکس کیږي اوڅنګه چي د خورا امتیاز لرونکی شرکتونو د سیستم بد لون یا دهغود پا لیسی تغیرد متحده ایالاتو پرحکومت با ندي واک چلوي ، نو په هرصورت د ما لي شرکتونو ګټی دنورو امریکایي شرکتونو سره په زیاتیدونکي ډول ټکر یا تضاد رامینځته کوي کوم چي واقعاً که هغو غواړي ریښتني توکي (کا لی) اوخپل خدمات وپلوري اوګټه تر لاسه کړي اویا که ددی شرکتونو کارمندان غواړي چي خپل د ندي وسا تي . په داسی حا ل کي چي دمالي پانګوني شرکتونه دتیرو (دیرشو) کلونو لپاره پالیسی ټا کی او اپوزیسیون په کا ل (2016) د دواړو یعنی د**هیلاری کلنتون** اود **ترامپ** د مشری سره د **ترا نس پا سیفیک** ملګرتیا وغند ل شو. د پنګوا لی شخړي د ډله ایز مخا لفت سره یوځای کیدو معنی داده چی دااحتمال

شتون نه لری چی متحده ایالات دا سی چلند اویا میتود په نورو هیوادونو کی د خپل تسلط دتینگولو لپاره وکاروي کوم چي په راتلونکي کی سوداگریزي معاملی پلی کړل شي .

ځنی نخبگا ن (اشراف) د کمپا ین د ونډ و ، لابی کولو اود مشخصو مفسد و اشخا صو او فاسد و چا رواکو دلاس لرنی له لاري اوس هم د دي وړتیا لري چي د دوی بهرنی پانگونی په ځانگړی بنی سره پکاروا چول شی اویا وسا تل شي یا د خپل پانگونی لپاره په خارج کي خپل نژدی ملاتړی ترلاسه کړي اوپه همدي ډول که څه هم متحده ایالات حتی دنړی ترټولو مقاومت لرونکي اومناقشه کونکي برخوکي دمجبوریت له مخي په مداخله لاس پوری کولای شي اوهم د پنتا گون جنرالان او دریا سالاران لا هم کولای شي چي د نړی په ډیرو برخو کي اتحا د یي (ایتلافونه) اود سلاحگا نو اود جنگی مهما تو اډی اوستیشنونه د خپل محلی متحد ینو په مرستي سره رامینځته کړي او ا مریکی هغه تعهدا تو ته را وبولي کوم چي کولاشی شی ( لکه هغسی چی امریکی په تیرو وختونو کي ترسره کړي) هغه ترسره کړي چی دجنگ لپاره دلاری اوارول دي. کوم چي دهغه په رڼا کي دغه نخبگان خپل تفوق اوخپل فرماندهي زمونږ پرمنابعو اوزمونږ پر پا تي ژوند با ندي ټینگ وسا تي کوم چي دغه موضوع لا پسی مخ په پراخیدو وکړي کله چي نخبگا نو یو بل ته ننگونه کوي اوچیری چي نور ملتونه اود هغو اشرافو د دی وړتیا و لری چی د متحده ایالاتو پر وړا ندي خپلی گټی تعقیب کړي .

## مخ په وړاندي لار :

مونږ په متحده ایالاتو کي څه کولای شو ؟ آیا مونږ ددی اړتیا لرو چي ډ یر ا نتظار وبا سو ترڅو چي متحده ایالات دنورو هیوادونو په پرتله کمزوره شي اوددی هیواد اشراف یا نخبگا ن یودبل سره دخپل گټی پرسرپه جنگ لاس پوري کړي ؟مونږاړتیا لروچی تیربریاوو(بریالیتوبونو) ته وگورو اود هغه بریاوو د ټکو په پیژند لو کی سره همغږي شو یعنی پرهغو ټکو کوم چي زمونږمخا لفین پکي خورا بریا لی شوی وه یاچي بریا لي کیدای شي مونږ باید هغه تیرو تجارتي موافقتنامي څخه ملاتړوکړوچی لا مخکي له مینځه تللی اوډیري امریکایان دخپل عوایدو دپحال کمښت سره مخامخ دي او یا څنگه چي د دوی د ند ي په ورکید و یا داچي ډیرنا څرگند کیږي دامریکا یا نو وړتیا هغه وخت چي سوداگری موافقتنا می وگوری کوم چي دبانکونو اودما لی شرکتونو آزاد پراختیا د دوی د گټو د مخرب په بڼه کیدای شی چی دداخلی اقتصادی سیاستونو پر خبرو باندی په یو نمو نی سره وا وړي پری پوه شي.

په داسي حا ل کي چي دافغانستان اوعراق جنگونه په ترتیب سره اتلس او شپاړس کاله روان

دي، په دغه هیوادونو اومتحده ایالاتو کي دمخا لفتونو کچه ددی موجب ګرځید لي چی په دي هیوادونو کي جګړه دویتنام دجګړی په پرتله لا پسی خونړی شوی دي ، اکثرو امریکایانو خپل مخالفت دویتنام دجګړي په وړاند ي هغه وخت را څرګند کړل کله چي په هغه جګړه کی دامریکا یی سرتیرو د مړنی کچه (20000) سرتیرو ته ورسید او په عراق کي د (2000) امریکا یی سرتیرو د مړنی له امله دامریکي خلک خپل مخا لفت دهغه جګړي په وړاندی وښودل اما له بده مرغه په هیڅ یو ددغو هیوادونوکي دغیرنظا میا نو دتلفا تو شمیرنه کوم چي دامریکایی متجا وزو نظامیا نو اود سرتیرو پواسطه سره ترسره شوی په ډاګه نشوترڅو چي ددی هیوادونو د خلکو کرکه اود خلکو احسا سا ت دامریکی د متجا زو قوتونو په مقا بل کي را څرګند شوی وایی .

په داسي حا ل کي چی دامریکایانو مړنی ته پا م اړونه اویا فردی جلب توجه یوشوینستی (یا په مبالغه امیز بڼی سره دوطندوستی داحساس راڅرګندول) اوداخلاق له نظره یوجوړجا ړی دي کوم چي دنوی جنګونو ددوام د ملاتړ دکمزورکیدو لپاره یوه غوره لاره باقي پاتي کیږي چي په نهایت کي دغیرامریکایی ځا ن سا تنی موجب را برابروی کوم چي په غیر د هغه صورت کي امریکایا نوپه بمب غورځونی اویرغل با ندي لاس پوري کوی نظامی اواقتصادی ما تی اوناکامی اود نخبګانو پواسطه سره د په ورځنی زیاتیدونکي نا سم اوناوړی برخوردونو په کولو سره دنه ختمیدونکي اودنوی جګړي څخه د ملاتړ کچه را ټیټیږي – اما دا قتصا دی جګړي پانګوالو په متحده ایالاتو اودنړی په نورو برخو کي دکارمندانو اودکارګرانو په وړاندي جنګیږي نو په دی وجه مونږ اړتیا لرو چي خپل ځوځو ځلی هڅي یوځای کړو چي(99) سلنوخلکو ته په امریکي وښیو چي څنګه دامریکی ددی اشرافو پروژی اوهغوی بودجوی لګښتونه وپیژنی او همدارنګه د نخبګا نو ترمینځ د تفرقی پر اړوند باندي هوښیا ر اووسو ترڅو چي وشوکړلي مونږ هغه ټول سهل انګا ر ، بی پروا او زیا ن منونکې نخبګا ن وپیژنو اود هغو په وړاندي په تحریمونو لاس پوري کړو اوهم دهغونا ولي ځیره په تظاهراتو او اعتصابا تو کی ټولو خلکوته ور وپیژنو.

-------------------------- **په درنا وي « 12-12-2019 »**